بسم الله الرحمن الرحیم
د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

## د وزیر صاحب د شهادت په مناسبت ځانګړې اونیزه



اونیزه راستنیدنه
هفته نامه عودت

علم د هر ډول یرغل پر وړاندې له ځانه د دفاع یوازینۍ وسیله ده.
شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني

# د ارګ په جامع جومات کې د شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني تقبله الله د فاتحې او دعا مراسم ترسره شول




### د ارګ په جامع جومات کې د شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني تقبله الله د فاتحې او دعا مراسم ترسره شول

د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء محترم الحاج ملا محمد حسن اخوند، د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي، د کورنیو چارو وزارت سرپرست محترم الحاج سراج الدین حقاني، د ملي دفاع سرپرست وزیر الحاج مولوي محمد یعقوب مجاهد، د اسلامي امارت د کابینې یو شمېر غړو، ګڼو علماو کرامو او مجاهدینو د ارګ په جامع جوماتې کې د شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني تقبله الله د فاتحې او دعا په مراسمو کې ګډون وکړ.

ټولو ګډونوالو د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو د مخکیني سرپرست وزیر شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني تقبله الله روح ته دعا او نوموړي ته د الله جل جلاله له درباره د فردوس جنت غوښتنه څرګنده کړه.

### د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د شهادت په اړه د افغانستان او نورو هېوادونو خلکو د خواخوږۍ د مننې او درناوي په اړه د مهاجرینو چارو وزارت د مالي مرستیال پیغام

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال شیخ کلیم الرحمن فاني، د افغانستان د شهید پرور ملت، ګاونډیو هېوادونو او په هېواد کې له میشتو نړیوالو بنسټونو او موسسو څخه چې د شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني په جنازه، د فاتحې مراسمو او خواخوږۍ کې یې برخه اخیستې وه، مننه او کورودانی وکړ.

ښاغلي فاني وویل: د هېواد په ټولو برخو او نورو هېوادونو کې ټول مسلمانان د هغه په شهادت یقیناً خواشیني شوي دي، چې د وزارت په استازیتوب د ټولو هغو چې په دې غم کې یې له موږ سره ځان شریک کړ، د الله تعالی له درباره ورته د لوی اجر غوښتونکي یو.

شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني یو مهربان او زړه سواند شخصیت و او پر ټولو یې شفقت درلود، چې د هېواد د مجاهد ولس په زړونو کې به یې ځانګړی ځای تلپاتې وي.

یو ځل بیا د هېواد دننه او بهر له ټولو شهید پروره افغانانو، په هېواد کې د مېشتو بهرنیو هېوادونو له سفارتونو، کورنیو او نړیوالو بنسټونو او عامو خلکو څخه چې په دې غم کې یې ځان شریک کړی، مننه کوو.

**حقاني په حقانیت د اسلام ضد هر شریر او یرغلګر په خلاف وجنګید، په حقانیت سره یې ماتې ورکړه، جهاد او قتال یې لله في الله او د ولس د سوکالۍ لپاره و.**
**بریالی شو او په حقانیت یې درې کاله شپه او ورځ خدمت وکړ، رښتیا هم چې شهادت یې هم حقانیت او حق ګواهي ورکوي.**

### مراسم دعا و فاتحه خوانی بر روح شهید الحاج خلیل الرحمن حقانی در وزارت مهاجرین برگزارشد

مراسم دعا و فاتحه بر روح شهدا حادثه المناک روز چهارشنبه هفته گذشته، علی الخصوص شهید الحاج خلیل الرحمن حقانی وزیر پیشین امور مهاجرین و عودت کننده گان امارت اسلامی افغانستان، در مسجد مقر وزارت برگزارشد .

شیخ کلیم الرحمن فانی معین مالی واداری وزارت پیرامون شخصیت شهید حقانی صحبت نموده گفت: شهید الحاج خلیل الرحمن حقانی همه عمر خویش را در راه مبارزات و جهاد مقدس صرف نمود که بالاخره چنین درجه شهادت و عظمت نصیب وی شد.

وی شخص مهربان، دلسوز و دارای اخلاق نیکو بر همه بود یقیناً که نبود چنین شخص در میان ما جبران ناپذیر است، اما تقدیر و فیصله الهی چنین بود الله متعال درجات بلند را نصیب شهید حقانی نماید.

مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت نیز صحبت نموده درجه شهید را از دیدگاه آیات قرآنکریم بیان داشته گفت: نظام که شهید داشته باشد هرگز اسارت ندارد امارت اسلامی در دو دهه گذشته قربانی های زیادی را متحمل شده است که خانواده شهید حقانی نیز از این امر مستثنی نبوده دها تن از اعضای خانواده شهید حقانی در راه جهاد علیه اشغالگران به درجه شهادت نایل شدند.

آقای راشد در ادامه افزود: دشمنان بزدل به این فکر نباشد که با شهادت رساندن حقانی از دست آنان کاری

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

# د وزیر صاحب د شهادت په مناسبت ځانګړې اونیزه

اونیزه راستنیدنه
هفته نامه عودت



خواهد شد برعکس با شهادت نظام ما بیشتر تقویت خواهد یافت و هزاران تن دیگر آماده خدمت به این کشور اند.
شهید حقانی یک شخص دلسوز، مهربان و بر همه شفقت داشت که نظیر آن کمتر بود الله متعال شهادت وی را قبول و برای بازمانده گانش صبر جمیل اعطا فرماید. مراسم با اتحاف دعا بر روح شهید حقانی توسط مولوی محمد جان خدرخیل رییس دعوت و ارشاد وزارت به پایان رسید

## ځینو ولایتونو کې د شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني د فاتحې او ختم مراسم ترسره شول

د تېرې اونۍ د پېښې د شهیدانو او په ځانګړې توګه د اسلامي امارت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو مخکني وزیر شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني د فاتحې او ختم مراسم د مهاجرینو چارو وزارت په یو شمېر ولایتي ادارو کې ترسره شول.
د ننګرهار، کاپیسا، دایکندي، کندز او فراه ولایتونو د مهاجرینو چارو امریتونو او د هرات ولایت د اسلام کلا له سرحدي امریت څخه د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې، د دغو ولایتونو د مهاجرینو په ادارو کې د دعا او ختم مراسم ترسره شول او د یادو ادارو مسوولینو او کارکوونکو د شهید حقاني د جهادي دورې د کړنو او مبارزو یادونه وکړه.
نوموړي ته یې د جنت او کورنۍ ته یې د جمیل صبر غوښتنه وکړه.
دغه راز د هرات، بغلان، نورستان، لوګر، پروان، جوزجان، کونړ، تخار، بدخشان، بلخ، هلمند، پکتیکا ولایتونو او په ایران کې د مېشتو افغان مهاجرینو اتشې هم په خپلو پیغامونو کې د شهید حقاني کورنۍ ته د تسلیت مراتب وړاندې کړي دي.

## مراسم ختم و دعا بر روح شهید الحاج خلیل الرحمن حقانی، در شماری از ریاست های مهاجرین ولایات کشور برگزارشد

مراسم ختم و اتحاف دعا بر روح شهدا حادثه هفته گذشته علی الخصوص شهید الحاج خلیل الرحمن حقانی وزیر پیشین وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان امارت اسلامی، در شماری از ریاست های امور مهاجرین ولایات کشور برگزارشد.

قرار گزارشات واصله از ریاست ها و آمریت های امور مهاجرین ولایات ننگرهار، کاپیسا، دایکندی، کندز، فراه و آمریت سرحدی اسلام قلعه ولایت هرات مراسم ختم و اتحاف دعا برگزار شده روسا و کارمندان آن ادارات از کارکرد و مبارزات دوره جهاد شهید حقانی یاد آوری نموده خواستار بهشت برین برای وی و صبر جمیل به خانواده وی شدند.

به همین ترتیب ریاست های مهاجرین ولایات هرات، بغلان، نورستان، لوگر، پروان، جوزجان، کنر، تخار، بدخشان، بلخ، هلمند، پکتیکا و اتشه امور مهاجرین افغان مقیم کشور ایران نیز با ارسال پیام های تسلیت مراتب همدردی شان را با خانواده محترم شهید حقانی بیان داشتند.

## مېړنی دي چې یادېږي.

پنجشېر کې د دوو لویو کورنیو د زړې دښمنۍ د پای په مراسمو کې د امت د شهید شتون او ولسونه یووالي ته رابلل.
إنا لله وإنا إليه راجعون!

په ډېرې خواشینۍ سره مو خبر ترلاسه کړ چې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست الحاج خلیل الرحمن حقاني صاحب د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. نوموړي په ټوله مبارزه کې د اسلام، هېواد او ولس لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې او په دیني، جهادي او انساني خدمتونو کې یې ځان وتلی شخصیت څرګند کړ.
شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني یو داسې روښانه ستوری و، چې د اسلام او جهاد په تاریخ کې به یې نوم د خدمت، قربانۍ او صداقت په زرینو کرښو لیکل کېږي.
الله تعالی دې د هغه شهادت قبول کړي، د جنت الفردوس لوړې درجې دې ورکړي او کورنۍ ته یې د دې ستر غم د زغملو توان او جمیل صبر ورکړي.

په درنښت
د اسلامي ادب ګلبڼ اداره

## د شام عثمان او د افغانستان عثمان
## لیکوال: قاري سعید خوستی

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: يقتلون أهل الإسلام ويدعون أهل الأوثان
د خوارجو له لومړي ظهور بیا تر اوسه دا د دوی ممتاز صفت دی، چې مسلمان به وژني کافر ته به څه نه وایي.
نادره دا وه چې، په ۲۰۱٤م کال کې داعش چې د ایران او اسراییلو د دوښمنۍ لاپې وهي د دواړو هېوادونو پولو ته ورسیدل.
په سوریه کې د جولان لوړې څوکې ته ورسیدل خو په اسراییلو یې یو ډز ونه کړ.
په دې لیکنه کې د شام عثمان او د افغانستان عثمان سره مقایسه کوو.
۲۰۱٤م کال په شام کې خوارجو ابوخالد السوري په ډېر مظلومیت سره په شهادت ورساوه.
ابوخالد السوري په عثمان الشام ونومول شو، ځکه نوموړی داسې څوک و چې خپل ټول عمر یې په جهاد هجرت نصرت تیر کړي و او امریکا یې په سر لس میلیونه ډالر او جایزه ټاکلې وه.
کله چې د سوریې په محاذ د احرار الشام او داعش ترمنځ جنجال رامنځ ته شو دواړو لوریو ابوخالد السوري منځګړی وټاکه ځکه نوموړی د خپلې جهادي سابقې او د سپینږیرتوب په خاطر د ټولو لپاره د احترام وړ و.
ابوخالد السوري په عراق او شام کې یو څه نور جهادي مشران له ځان سره کړل او فیصله یې وکړه چې داعش دې د عراق تر پولو محدود پاتې شي او شام دې ابومحمد الجولاني ته پرېښودل شي، چې بغدادي یې د وژلو پریکړه وکړه او نوموړی چې د ټولو مجاهدینو او سوري ولس په منځ کې یې د داسې یوه مصلح سپین ږیري رول درلود چې ویښتان یې په جهاد او هجرت کې سپین کړي و، په شهادت ورساوه.
په افغانستان کې بیا خوارجو یو بل عثمان په ډېر قساوت او مظلومیت سره په شهادت ورساوه.
هغه سړی چې د ځوانۍ ټول عمر یې له ټانګ، توپ، ټوپک مرمۍ سره تېر شو. د جهاد او قتال په میدان کې یو سر پرې کړی مجاهد، د سولې او پخلاینې په ډګر یو ښه مصلح د خیر ښېګنې په ځای کې یو ښه منځګړی د عبادت پرمهال ښه عبادت کوونکی، د زده کړې پر مهال داسې وزیر چې د خپل وزارت له یوه رییس یې د قرآن کریم ژباړه شروع کړې وه.
خو هغه خوارجو چې عثمان رضي الله عنه یې د قرآن کریم د تلاوت په حال کې په شهادت ورساوه، د شام عثمان او د افغانستان عثمان یې په داسې حال کې په شهادت ورسول چې ټول امت پرې د غم اوښکې تويې کړې.

## د وزير صاحب د شهادت په مناسبت ځانګړې اونيزه

راستنيدنه اونيزه
عودت هفته نامه



لارويانو ته يې خپل ځان نمونه کړ
ځان يې ټوک ټوک تر اسلامه نذرانه کړ

مهاجرو، مجاهدو مرګ ته ووې
زموږ ټولو ها ملنګ ماما دې څه کړ!؟

د خبرې او عمل سړی وي داسې
خپل قاتل يې هم له ځانه خپه نکړ

مرګ ظالم ته يم سوچ وړی چې دا ولې؟
شهادت د دې ملنګ ته زړګی ښه کړ

د ابد په سفر ستړي ستومان لاړو
په جنت کې يې خپل ستړی ځان دمه کړ

دا يې هم د حقانيت يو لوی ثبوت دی
په محراب کې يې پور پرې د ژوندانه کړ

د ميوند ميرويس به ښه نشي بيا چېرته
په ملا باندې غوټ مات ستا بېلتانه کړ

محمد نعيم پرهيز

### داد محمد ناوک
### د شوروي يرغل پر مهال مقابل لوري ته شهيد حاجي صاحب وايي:

«ستاسې که څوک ونيول شي موږ يې عزت کوو، خو چې تاسې زموږ څوک ونيسئ په تلوېزيونونو کې يې راښکاروئ؛ هيڅ په دوښمنۍ نه پوهېږئ!
«/دوولس ګرامه ماغزه_شهرت ننګيال

ده د دوستۍ او دوښمنۍ پر معيارونو پوی، قومي مخور، مجاهد او د ولسي ارزښتونو بې جوړې مدبر سرلوړی ژوند وکړ او سور مخ د رب عزوجل لقا ته لاړ. تقبله الله

الله عزوجل دې شهيد حاجي صاحب پخپل ديدار ونازوي!

د دې صف د سختيو په اوج کې حضرت اميرالمؤمنين رحمه الله وفات شو، له نړۍ سره د روابطو په اوايلو کې يې ځای ناستی حضرت اميرالمؤمنين شهيد شو، دې ټولو سختيو دا صف محکم کړ، لا يې متحد او خپل مسووليت ته ژمن کړ.

د شخصيتونو شهادت موقتي درد زېږولی شي، خو د مسلمان د ژوند پای بايد همداسې سرلوړی وي، د مجاهد لوی ارمان شهادت وي، اما د حکومت په حيث دا سوچ مونډل پکار دی چې ټول خلک ښه خلک نه دي، وظيفوي مسووليت بايد د شخصي، عاطفي او مسکۍ اړيکي قرباني نه شي، د دې جريان د بنسټګر مهمه ځانګړنه قاطعيت و.

تقريباً دوه مياشتې مخکې مې شهيد حاجي صاحب يو ماسپښين قضا وليد، پيتاوي ته ناست، لونګۍ او ټوپک يې پر څمکه ورته ايښي مراجعين او مجاهدين يو ځای پرې را ټول دي، مبارک لاسونه مې يې لاسونو کې ونيول او هغه د تنکي مازيګر ديدن وروستی شو!

شهادتونه اهداف لا ارزښتمنوي، قاطعيت زېږوي، باور پخوي او د سرښندنې روحيه کې جذبه پياوړې کوي.

الله عزوجل دې د شهيد حاجي صاحب شهادت قبول او مسلمانانو ته جميل صبر ورکړي

### څو شيبې له شهيد حقاني سره !
### ليکنه: الحاج مولوي ولي محمد "تراب" حقاني

أعوذ بالله من الشيطٰان الرجيم :
بسم الله الرحمٰن الرحيم :
مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ. (سورة الأَحزاب ٢٣)

ژباړه: په مؤمنانو کې داسې کسان هم وجود لري، چې هغوی له الله سره کړې وعده تر سره او ښکاره کړه.

درنو لوستونکو!

الله متعال ذات خپل ستر او وروستی کتاب قرآن عظيم الشان د خپلو بنده ګانو د هدايت لپاره لاربنود او د يو محکم نظام د جوړښت لپاره را لېږلی دی، قرآن کريم موږ ته د الله تعالی جل جلاله لخوا د جبرئيل آمين عليه السلام په سبب او د ستر لاربنود صلی الله عليه وسلم په مبارکه ژبه هغه هدايت او لاربنود وګرځېد چې موږ ته يې پوره پوره د انسانيت درس راکړ، موږ ته يې هغه څه وښودل چې له قرآن څخه بغير د هغه د ښودني تعبير د حال په ژبه نه شم تعبيرولای، قرآن الله د يو نظام او قانون لپاره را لېږلی دی، قرآن موږ ته له ځان سره هغه نظام راوړ چې پر هغه باندې د رب لا يزال سپېڅلي بنده ګان تللي او لا هم روان دي، خو هغوی بختور دي چې د قرآن نظام يې خپل کړ او د سپېڅلي قرآن سپېڅلي لارويان شول.

بل ځای متعال ذات په خپل قرآن کې فرمايي : بسم الله الرحمٰن الرحيم :
إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحۡسِنُونَ. (سورة النحل ١٢٨).

ژباړه: بېشکه الله جل جلاله د متقيانو او نيکۍ کوونکو سره مل دی.

دلته يو ځل بيا الله رب العزت موږ ته پيغام راکړ چې: زه د پرهېزګارو او نېکۍ کوونکو سره ملګری يم، د الله ج ستر کتاب قرآن موږ ته دم په قدم د انسانيت د ژوند لاربنود دی، موږ ته قرآن حرفاً حرفاً د تسليت، زغم، صبر، لوړ مُرال او خوښۍ زېری کوونکی دی.

د دُنيا او عُقبٰی د ژوندانه داستان يې راته په ګوته کړی دی، چې متقي له الله سره وعده کوونکی بيا پر خپله وعده وفا کوونکی او له الله څخه وېرېدوونکی کامياب او الله جل جلاله د هغوی ملګری دی.

د پرون د غميزي او ناخوالي پېښې په اړه به څه وليکم، څه به ووايم؟

دا حال پر ژبه او دا داستان ليکل د انسانيت د عقل تر مدار وتلی درد او غم دی، د انسانيت ژور ژور أفکار يې عاجز، خاموشه او د درد په اوښکو وژړول.

هوکې: شهيد الحاج خليل الرحمٰن حقاني درته يادوم، د دغې غميزې او جابرانه پېښې هدف، زموږ مدبِّر، تر سرو لمبو وتلی، د دوو سترو لويو امپراطوريو ماتوونکی، د جِهاد له غازي سنګر سره اشنا او غازي، د عزم اَستقلال، لوړ متأنت او ديانتدارۍ خاوند شهيد خليل الرحمٰن حقاني "تقبله الله" حقانيت، مېړانه، سپېڅلتيا او پر نبوي سيرت باندې سم پل وهوونکې تګلاره شرق بيا تر غرب، شِمال بيا تر جنوبه، آن عربي دُنيا هم منلی وه، د حَقاني شهيد فِراق دومره درونډ شو چې د فِراق درد يې په چار چاپېره نړۍ کښې وغوړېد دُښمن يې هم له حقانيت، مېړاني او سپېڅلتيا اعتراف کاوه.

شهيد الحاج خليل الرحمٰن حقاني "تقبله الله" د مرحوم مولوي جلال الدين حقاني "رحمه الله" کشر ورور، د اسلامي امارت د کورنيو چارو وزارت د وزير الحاج خليفه سراج الدين حقاني "حفظه الله" اکا او مُحسن وو، چې د مشر حقاني صاحب "رحمه

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرينو او راستنېدونكو چارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعاتو آمريت

# د وزير صاحب د شهادت په مناسبت ځانګړې اونيزه

هفته نامه راستنېدنه عودت اونيزه



الله" په شمول ټوله كورنۍ يې د الله په سپېڅلې لار جِهاد كې خپل قېمتي وختونه قرباني كړي وو، له كوره يې لسګونه شهيدان وركړي دي، له روسي يرغل څخه بيا آن تر اوسه يې د سپېڅلي نِظام لپاره داسي نه هېرېدونكې سترې قربانۍ وركړي، چې زموږ د زرين تاريخ پاڼي به يې په تاريخ باندي وياړي او د حقاني شهيد ټولي قربانۍ، حقانيت او مېړانه به وليکي.

حقاني شهيد د هغه د ملګرو په وينا څو څو ځله د كافر دُښمن له سرو لمبو وتلی، زندان، زخم، سترياوي او نور رنګارنګ تكاليف يې د الله په لاره كې پر خپل ځان باندې تېر كړي وو، چې بالآخره په دې سختو كړاوونو او كړكېچ حالت كې يې د سر او بږيري وېښته هم سپين شول، خو شهيد حقاني لا ستړی نه شو، چې پر ګران هېواد د امارت له سپېڅلي قيام سره يې بيا د نِظام ستر خدمت ته لبيک وواېه او د نِظام په خدمت د مِلت په چارو كې يې تر دې مهاله د ژوند رنګيني شَېبې شمېرلې، چي بالآخره د رب لا يزال پر كړې وعده يې د متعال ذات ستر أمر ته لبيک وواېه او د شهادت مبارک جام يې په سر واړاوه.

زه چې كله ماشوم وم لا به ما د حقاني شبكې نوم له خپلو مشرانو اورېدی، زما د ژوند له هم هغه پيل څخه بيا آن تر اوسه مي د حقاني شبكې قدر د زړه په اطرافو كې ځاى وموندی، كله چې مې ورو ورو د ژوندانه د ځوانۍ پر پيل قدم كېښود؛ نو له ځان سره به مي دا آرمان حِس كاوه چې كله به د حقاني شبكې له درنې او قدرمنې كورنۍ سره مخامخ شم، ترڅو له دوی هغه د مېړانې، حقانيت او د متعال ذات د حقيقي عِشق مينه ترلاسه كړم، خو دا ارمان مې هم لله الحمد تر سره شو.

په ۲۰۱۹م كال كې د ژمي شپې او ورځي وې چې، د كندهار ولايت يو مدبِّر ممتاز او متقي عالِم هم د كلاب النار "د جهنم سپي" لخوا په شهادت رسېدلی وه، نو زه يې د كور تر دروازې بيا د جنازې تر ځايه په لاره كې روان شوم. په لاره كې د شهيد شوي عالِم د جنازې روان موټر يو دم ودرېد، خداى شته ما څه وېره احساس كړه او له ځان سره مې په زړه كې وويل چې پرون موږ د داسي غميزي او دردوونكې پېښې عيني شاهدان وو، خو نن مو بيا جابِر دُښمن نه پرېږدي او د جنازې پر وخت هم خپل هدف ته يوځل بيا ځان رسوي، ما لا دا خبره خلاصه كړې نه وه چې په سرو سترګو ژړېدونكی، ښايسته نوراني يوه مجاهده څېره او د خوږو اخلاقو څښتن راكښته شو، ما خو نه تر اوسه ليدلی وو، نه مې هم پېژندی، خو راسره بل ملګري يوه مولوي صاحب راته وويل چې دا د مشر حقاني صاحب "رحمه الله" ورور خليل حاجي صاحب دی، خليل حاجي صاحب شهيد شوی مولوي صاحب پر تندي او مخ باندې ښكل كړ، بيا يې وويل چي ستا شهادت دې رب لا يزال قبول كړي، خو ستا انتقام به له دُښمن لازماً اخلو، حقاني شهيد بېرته په لاره كې خپل ولاړ موټر ته پورته شو.

نو مې ملګري مولوي صاحب ته وويل چې د خليل حاجي صاحب په موټر سمدلاسه ورپسې شه تر څو له خليل حاجي صاحب سره مخامخ ووينم او په له ليدته كاته يې بختور شم، موږ چې سمدلاسه ورپسې شو، نو ګورم حقاني شهيد په همدې سيمه كې نږدې يوې بلې كوڅې ته څېرمه د امارت له مشرانو څخه د يو بل مشر مېلمستون ته سمدلاسه وروګرځېدی او هلته حقاني شهيد د حقانيت بله ډېوه "تقبله الله" له موټر را كښته شو او ويې ويل چي حاجي مُلا صاحب چيري دی؟ ولاړو ملګرو ورته وويل چې په كوټه كې دننه د جنازي لپاره د تګ په حال كې دی، نو زه او ملګري مې د حقاني شهيد خواته ور وړاندي شو تر څو ور سره سترې مشې وكړو، ملګري مې بيا ما لاس ښكل كړ، الله أكبر ! په دې ليده كاته كې چې ما كوم څه احساس كړه د ژوند په ډېرو خوږو شېبو كې مې ليدلي نه وه وروسته تر هغه زما سره ملګري مې حقاني صاحب ته وويل چې حاجي صاحب! دغه ملګری ستاسو سره ډېره مينه لري، د همدې خبرو په اورېدلو باندې شهيد حقاني صاحب "تقبله الله" د دويم ځل لپاره په غېږه كې ونيولم، د ترحم او له شفقت ډک لاس يې زما پر سر را تېر كړ بيا يې راته دُعا وكړه، چې ستاسو دغه مينه دې الٰهي ذات په الٰهي دربار كې قبوله كړي، الله دې باعمله مجاهد او متقي عالِم درڅخه جوړ كړي، د مېلمستون تر انګړه شهيد حقاني زه تر لاس نيولی وم چې موږ د شهيد حقاني په شمول مخ پر مېلمستون قدم وواهه څو قدمه وروسته هغه مشر حاجي مُلا صاحب د حقاني شهيد په ليدلو سمدلاسه مخې ته راغی او يو له بل يې له أخوت، مينې او محبت غېږه وركړه. وروسته تر هغه بيا شهيد حقاني صاحب ته حاجي مُلا صاحب وويل چې ته او ملګري دې همدلته تم شئ! ځكه تاسو له لرې ځايه سفر كړی دی لږ به ارام وموموئ! موږ به د جنازې تر مراسمو اداء كولو وروسته بېرته سمدلاسه ستاسو په خدمت كې حاضر شو، نو موږ مخ پر هديره له جنازې سره روان او شهيد حقاني مو دلې په همدې مېلمستون كې پرېښود، وروسته تر جنازې زما د راتګ هڅه او ارزو وه، خو د بيا ليدلو طمعه مې پوره نشوه، په دې لومړي ځل ليدلو كې ما له شهيد حقاني څخه درې شيان ترلاسه كړل.

١ د عالِم سره مينه، اخلاص او خواخوږي.
٢ د امارت درنو مشرانو ته درناوی او په خپل منځ كې أخوت او كلكه ورورولي.
٣ زما په څېر د امارت و ادنٰا وګړو ته مينه وركول، هغوی ته په ښه نظر د شفقت او ترحم كتل.

وروسته تر دې مې د حقانيت سره لا هم مينه زياته شوه او د ژوندانه دا تږې مينه مې خړوبه نه شوه، چې بيا مې هم څو څو ځلې دا لويه ارزو وه چې زه به د حقاني خاندان سره ليده كاته كوم او له دوی به د جِهاد په لاره كې د سپېڅلتيا، مېړانې او لوړې حوصلې هغه څه زده كړم كوم چې يې دوی د مسير لارويان دي، خو څه موده زيات يو كال وروسته مې بيا دا آرزو رب لا يزال پر زړه را پرې نه ښوده او زه يې له دې څخه د دويم ځل لپاره بيا د شهيد حقاني "تقبله الله" په ليده كاته باندې بختور كړم، د ۲۰۲۰ ء كال لږ څه كم وروستۍ شپې او ورځي وې چې د يو لوی ممتاز، محدث او مفسِّر عالِم تر شهادت دوه كاله وروسته د هغه د دويم تلين په وياړه جوړه شوې غونډه وه، چې شهيد حقاني صاحب هم دې ته رابلل شوی وو، د غونډې په تالار كې وروسته څو شېبې چې ما شاته وكتل؛ ګورم چې شهيد حقاني صاحب د تالار په پاى كې داسې په عُجز او ملنګۍ شاته ناست دی، د تلين په وياړ مراسم اوري او ګوري، دا ځل مې بيا هغه تږې تنده نوره تږې شوه چې له شهيد حقاني صاحب سره به يوځاى كېږم او د ده تر ځايه به ځان رسوم، نو مې سمدلاسه هڅه پيل كړه چې بيا تر هڅې ورسره ملاقي شوم، نو مې ورته وويل چې ستا سره بې حده مينه كوونكی هغه فلانی ...... يم چې په فلانۍ ورځ مې په فلاني ..... ځاى كې درسره وليدل، دا ځل شهيد حقاني له خپلې څوكۍ څخه را ولاړشو او كلكه مينه يې راكړه، داسې مينه چې په ډېر څه ما له چا څخه ليدلې نه وه، بيا يې راته وويل چې زما پر څوكۍ كېنه زه او ته به مجلس وكړو نو مې ورته وويل الله أكبر! حاجي صاحب دا څه وايې؟ ده راته وويل چې ولې تاسې زموږ عالمان او د راتلونكي مجاهدين ياست موږ به ستاسو قدر حتماً كوو، ما ورته وويل چې حاجي صاحب ستاسو قدر زموږ په زړونو كې ځانګړی ځاى لري، ستاسو په سبب باندې موږ د نړۍ شرق او غرب منلي يو، ستاسو په سبب باندې موږ د الٰهي شرعي نظام خاوندان پاتي شوي يو همدا تاسو ياست چې الله ج پر موږ خپل د ترحم سيوری غوړوي.

بسم الله الرحمن الرحیم
د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

# د وزیر صاحب د شهادت په مناسبت ځانګړې اونیزه



راستنېدنه عودت اونیزه هفته نامه

نو د غونډې تالار وو شهید حقاني صاحب راته وویل چې د غونډې تر اختِتام وروسته به زما سره ځې، تر څو زه ستا خدمت وکړم، زما د زړه هم همدا آرزو وه، خو زما سره د تللو څو ملګرو دا ټینګار وو چې له شهید حقاني صاحب سره به بیا بیا ووینو اوس ناوخته دی چې خپل هدف ته ځان رسوو، نو بالآخره په رخصتۍ کې مې حقاني صاحب ته دا وویل موږ پر الله ج باور لرو چې بیا به د الله جل جلاله په نصرت او ستاسو د مېړانې او حقانیت په مټ یو ځل د سپېڅلي شرعِي نظام خاوندان کېږو، شهید حقاني صاحب راته وویل چې ډېره بعیده نده دا مې کلک یقین دی ژر تر ژره به په نږدې وختونو کې سپېڅلی مقدس نظام راځي، نو ترې روان شوم او له خپلو ملګرو سره مې دا خوږه خاطره هلته شریکه کړه.

په دې لیدنه کې ما له شهید حقاني صاحب څخه بیا څلور هغه شیان زده او ترلاسه کړل چې بل ځای یې موندل زما لپاره ډېر ګران کار وو.

۱ ـــ د الله له لوري شهید حقاني صاحب ته ورکړل شوې بې حده عاجزي.

۲ ـــ په مجلس کې د مخاطب او متکلم خبرې په ویښو مغزو اورېدل او بیا هغه ته په ډېر تدبُّر ځواب ورکول او هغه ته د هغه له مُرال څخه نوره هم کلکه حوصله ورکول.

۳ ـــ خپله قربانۍ، خپل کلک عزم او خپل ټول جهادي خدمت د هیڅ مقدار ګڼل او د مقابل لوري ادنٰا خدمت ته په کتو هغه ته لا نوره هم لوړه حوصله ورکول.

۴ ـــ د الله پر وحدانیت او د هغه له جانب څخه پر راتلونکي نصرت باندې کلک یقین درلودل.

دا هغه څه وه چې ما له شهید حقاني صاحب "تقبله الله" څخه په دوه ځله څو لنډو شېبو کې ترلاسه کړه .

له شهید حقاني صاحب سره د هغه یوه نږدې او تر دې دمه پاته شوي ملګري راته وویل چې شهید حقاني صاحب به تل د دښمن په مقابل کې په ډېر لوړ عزم جنګېدی، هغه یې د سنګر یوه خاطره داسې راسره شریکه کړه چې د روسي یرغل پر خلاف موږ د شهید حقاني صاحب سره د وطن په دښتو او غرو کې د جِهاد لپاره ملګري وو، یوځل روسي یرغلګرو پر موږ باندې وار وکړ نو هغه د تور ټوپک او چانټې خاوند سمدلاسه خپله چانټه تر ملا تاؤ او مخ یې د جګړې د میدان په لور کړ، موږ ورته وویل چې حاجي صاحب ته دلته راته ځنګ شه او سیل یې کوه چې موږ هغوی څنګه تیښتې ته اړ کوو شهید حقاني صاحب راته وویل چې د جګړې په ډګر کې د قمندان حیثیت د لاربښود دی قمندان باید ترمخه او ملګري یې ترشاه ور پسې قمنده وي، زه صرف جګړن یم، نور تاسې تر ما غښتلي یاست خو زما ایماني وِجدان دا نه لوروي چې زه دې دلته څنګ او تاسو دې د جګړې پر ډګر قومانده یاست، زه هلته ستاسو خدمت کووم او تاسو راسره ملګري یاست.

د هغه ملګری زیاتوي چې زموږ او د دُښمن تر منځ داسې نښته وشوه چې دُښمن مو داځل په څو شېبو کې د جګړې له ډګره تېښتې ته اړ کړ او موږ د شهید حقاني صاحب د کلک عزم او لوړ مُرال په ملتیا دا بریا ترلاسه کړه.

هغه د شهید حقاني صاحب په اړه یوه بله عجیبه حیرانوونکې راته وکړه، ویل یې چې کله د مرحوم ثالث عُمر رحمه الله د وفات اعلان وشو نو له یوې خوا دا درونډ غم عرب او عجم په لړزان کې کړه، له بلي خوا موږ ته د نوي زعیم راتګ او هغه په ښه تدبیر باندې د ټاکلو ژور فکر وو، خو د رب لایزال داسې ستره مهرباني وشوه چې د امارت له لویو درنو مشرانو څخه د امارت د زعامت او د دې چارو د سمبال لپاره د عالي شورٰی په مشوره محبوب أمیر، شهید أمیر، سعید أمیر، أمیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور صاحب "تقبله الله" نوی زعیم او أمیر وټاکل شو، د منصور صاحب تر قیادت وروسته د شهید حقاني صاحب هلې ځلې نه هېرېدونکې دي چې له یوې خوا د امارت د مؤسس دا لوی او درونډ غم وو، له بلي خوا د ښکېلاک رنګارنګ وحشتونه او پر هېواد باندې ظالمانه یرغل وو، خو د منصور صاحب یو مدبِّرانه زعامت او یو منل شوی قیادت د شهید حقاني صاحب په برکت و موږ ته د اتحاد، قوت او أخوت درس راکړ، خو شهید حقاني صاحب بیا هم د امارت د دې زعیم ترشاه هر رنګه قربانۍ ته تیار لکه سپر ولاړ وو، ترڅو دا صف خدای مکړه په بل لور ولاړ نه شي او خدای مکړه دا صف دړې وړې نشي، خو لله الحمد دې هلو ځلو رنګ راوړ او د شهید حقاني صاحب په شمول ټول هېواد د زعیم أمیر سره د بیعت تر سایې لاندې د سپین محمدي توغ ترشاه راټول او بېرته دښمن ته یو موټی شول.

د امارت د دې روان مقدس نظام په راتګ کې شهید حقاني صاحب هغه هڅې او سترړیاوې پر خپل ځان باندې تېرې کړې چې له شرق بیا تر غرب، له شِمال بیا تر جنوبه یې د امارت د راتګ صف ټینګ او یو موټی کړ، د دښمن پاته شوي رژیم یې د امارت دې مقدس صف ته را وبللو، هغوی ته یې د دوی د سر او هر رنګه أمنیت تضمین ورکړو، ډېر مرور یې بېرته پخلا او دې صف ته را وبلل.

شهید حقاني صاحب به تل د مِلت لپاره په خدمت کې شپه او ورځ یوه کړې وه، پر ځان یې بې ساري تکلیفونه تېرول، د مِلت خواخوږي او یو منل شوی مېړنی شخصیت وو، له هر چا سره به یې په ورین تندي او نرمه مسکا سترې مشې کوله، نرم مزاجه، سخي، د الله پر دین مین، مېړنی او یو ملت را ټولوونکی مشر وو.

خو د وحشي او په ظاهره د اسلام دعوه ګر او په باطِن باندې یو کلاب النار" د جهنم سپي" په یوه ظالِمانه حمله کې پر شهید حقاني صاحب باندې ځانمرګی برید وکړ.

چې بالآخره د ورمې چهار شنبې د ماپښین د لمانځه پر مهال د وحشي دُښمن په یوه هدف کې د اسلام دا حمزه، د عُمر، منصور او جلال لاروی، شجاع او مېړنی، د نبوي أخلاقو ستر څښتن، د اسلامي مقدس نظام د قیادت د استقامت غوښتونکی شهید حقاني صاحب خپل پر راغلې نېټه د شهادت لوړ جام په سر باندې واړاوه او د شهادت ستر اعزازي مقام یې ترلاسه کړ.

نحسبه كذٰلك والله حسیبه.

جنتونه دي ځای سه مشره!

ستا خلا دې الله ج ژر ډکه کړي، موږ هم ستا پر مسیر در روان یو، ستا تګلاره مو هدف دی، ستا انتقام اخیستونکي ظالم، جابر او وحشي دُښمن ته به داسي درس ورکړو چې د دوی راتلونکو نسلونو ته هم د بیا بیا لپاره عبرت شي. ان شاءالله.

دُښمن دې یې ښه واوري ! موږ د خپلو مشرانو پر شهادتونو باندې نه کمزوري کېږو، دا زموږ حوصلې او عزمونه لا هم پیاوړي کوي، موږ به ستاسو نسلونه هم درختموو. ان شاءالله

هوکې دا هر څه د شهید حقاني صاحب پر کارنامو او زرین تاریخ باندې کم دي، خو بختور دي هغه کسان چې هغوی د خپلو مشرانو کارنامې د تاریخ پاڼو ته ساتي، د تاریخ په أوراقو کې خپل مشران تل یاد ساتي، د هغوی أرواحو ته دعا کوي، او مسیر یې خپلوي.

درنو قلموالو مبارزینو ! دا هرڅه د شهید حقاني صاحب خدمتونو او قربانیو ته هیڅ دي، همدا اوس قلم ته لاس کړئ! د خپلو مشرانو پر قربانیو باندې هغه څه ولیکئ چې بیا زموږ د راتلونکي نسلونو لپاره د تاریخ یو زرین باب شي، زموږ نسلونه هم د خپلو درنو او د الله ج پر دین باندې د ټوټه ټوټه شویو مشرانو له زرین او رنګین تاریخ خبر شي.

د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي د شهید خلیل الرحمن حقاني د جنازې په مراسمو کې وینا کوله، زیاته یې کړه چې «حقاني صاحب تېر درې کاله د مهاجرینو په خدمت کې تېر کړل چې له

بسم الله الرحمن الرحیم
د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

# د وزیر صاحب د شهادت په مناسبت ځانګړې اونیزه

اونیزه راستنیدنه
هفته نامه عودت



هرې خوا به کډوال راتلل نو دی به یې مخې ته ولاړ وو او د هغوی خدمت به یې کاوه؛ نو د دغسې صادقانو په شهادت رسول حتماً اثرات لري او په اور کې به یې هغه څوک بیا سوځي څوک چې دغسې خلکو ته مرکزونه ورکوي، ساتي یې، په شا یې ټکوي او مخه یې نه نیسي».

ښاغلي متقي په خپلو خبرو کې د سیمو پر هېوادونو غږ وکړ او زیاته یې کړه «مونږ د سیمو پر ټولو هېوادونو غږ کوو چې د دغسې ګډ دښمن او د داسې یو دښمن چې هیڅ ارزښتونه نه پېژني باید مخه یې په ګډه ونیسو».

ښاغلي وزیر د خپلو خبرو په پای کې د کورنیو چارو وزیر خلیفه سراج الدین حقاني ته د تسلیت او اطمنان مراتب وړاندې کړل او زیاته یې کړه چې «مونږ سراج الدین حقاني صاحب ته اطمنان ورکوو چې دا ناست خلک دي ټول وروڼه دي، ټول دي مشاورین دي، ټول دي همکاران دي او ټول دي د یوه صف او یوه سنګر ملګري دي».

د یادونې وړ ده، چې د شهید خلیل الرحمن حقاني د جنازې مراسم په پکتیا ولایت ګردې ښېرې ولسوالۍ کې ترسره شول، چې د اسلامي امارت لوړ پوړو مسوولینو، علماوو او زرګونو عامو خلکو ګډون په کې کړی و.

## د شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني تقبله الله په یاد کې د مولوي عبدالدیان تکل نوی شعر.

دلته ناست دی خو په تن سړی شهید دی
د جرګو او د وطن سړی شهید دی

فاتحه یې د حرم کوترې اخلي!
په زمزم باندې مین سړی شهید دی

چې وهلې یې مرۍ د ښکېلاکونو
د هغو تورو د فن، سړی شهید دی

نن دمه کوي د هجر له مزلونو
یوې لقاء ته ارمانجن سړی شهید دی

مهاجر مرغان دې نه شي تش ججوري
لپه سره ده، نشته ږدن، سړی شهید دی

له لمبو نه چې راوتی و تکله!
یو خلیل او بت شکن سړی شهید دی

## د خلیفه الحاج سراج الدین حقاني وینا

وَلَا تَقُولُواْ لِمَن يُقۡتَلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ
أَمۡوَٰتُۢۚ بَلۡ أَحۡيَآءٞ وَلَٰكِن لَّا تَشۡعُرُونَ

زموږ د کورنۍ مشر، سپین ږیری او مجاهد، د مهاجرینو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د شهادت لوړ مقام ته ورسېد.

هغه له دوو امپراطوریو سره د اسلام او آزادۍ په پار وجنګېدۀ.

په دې لار کې یې پر وجود لسګونه زخمونه ولګېدل، زندانونه یې تېر کړل، د کورنۍ د ډېرو نږدې عزیزانو د شهادت او بېلتون دردونه یې ولیدل، خو مات نه شو او دوه ځله تر آزادۍ ورسېد. یرغلګرو پرې پېنځۀ میلیونه ډالره انعام کېښود، خو ناکام شول.

بالآخره د هغو کسانو له خوا په شهادت ورسېد چې ظاهراً د اسلام د مبارک دین د پیروۍ ادعا لري.

خوارجو د اسلام په تاریخ کې همېش ستر شخصیتونه شهیدان کړي چې خلیل الرحمن حقاني هم د دې سپېڅلي قافلې سره ملګری شو.

د هر مجاهد هیله دا وي چې خاتمه یې شهادت شي. زموږ کورنۍ هم له دې شهادتونو او قربانیو سره نابلده نه ده، نو شهادت یې وياړ دی.

ټولو مجاهدینو او خواخوږو ته د صبر او استقامت استدعا کوو.

تقبله_الله

والي پنجشیر:

دست های بیرونی که نمی خواستن ما متحد شویم برای ما دسیسه ها می‌ساختن تا رفاه و آرامش مارا بر هم بزنند، حالا وقتش است ملت افغانستان زیر یک بیرق تحت عنوان یک شعار اسلامی گرد هم جمع شویم.

## د پنجشېر مرکز بازارک تاریخي سیمه کې په اولسي غونډه کې د یووالي په اړه د الحاج حافظ محمد اغا حکیم د وینا یوه برخه.

خلیفه صیب:

مونږ تر هر څه ډېر د جګړې او مقابلې په لارو چارو ښه پوهېږو خو الحمدالله هېڅکله مو د شخصي انتقام او عقده یې غچ سوچ نه دی کړی، یوازې د الله رضا مو هدف دی

د داسې تکالیفو غچ مو ستر رب ته پرېښئ هغه

عَزِيزٌ ذُو انْتِقَامٍ ذات دی.

شهیدحقاني

## د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي صاحب:

داعسي خوارجو نېږو ۷ میاشتو کې ۷ بریدونه کړي، چې ٦ هغه یې د کره استخباراتي څېړنو پر اساس په یو بهرني هېواد کې پلان او ډیزاین شوي، مونږ پر هغه هېوادونو چې دا شریر عناصر پالي او ساتي غږ کوو چې دا خوارج هېڅ ارزښتونو او حدودو ته پابند نه دي؛ پالل یې د اور لمبې ستاسو لمنو ته رسوي.

ددې ګډ دښمن د ملاتړ پر ځای ددوی پر وړاندې د ګډې مبارزې ملګري شئ.

شهیدحقاني

حجرې ته یې ورغلي وو، کله چې را ووتلو په مسکاء یې شیخ صاحب ته وویل ته خو لا ژوندی یې، ما ویل بیا به دې ونه وینم ځکه تا ټول خلک د ځان دوښمنان ګرځولي دي.

شیخ صاحب ورته وویل مرګ یوه ورځ راځي، هر وخت سړی نه مري.

اوږد مجلس یې ورسره وکړو، بیا یې شیخ صاحب ته وویل نور له دې خلکو تېر شه او خپلو درسونو ته دې دوام ورکړه.

شیخ صاحب ورته وخندل او ورته ویې ویل زموږ په موضوعګانو ته نه پوهېږې.

تقبلهم_الله

## تبصره

د حق د لارې غازي او شهید!

د اسلام په تاریخ کې شهادت د ژوند پای نه دی. تر دې مقامه له رسېدو وروسته د مسلمان حقیقي سکون او د ارام ژوند پیل وشي.

له همدې امله شهادت هغه لوړ مقام دی، چې مخلصو مجاهدینو ته ورکول کیږي.

شهید خلیل الرحمن حقاني د دوو اشغالګرو لښکرو د شړلو په برخه کې د جهاد اعزاز درلود. پر دې لار وتونکي هر مجاهد له لومړۍ ورځ دا شهادتونه پرځان منلي وي؛ بلکې د همدې شهادتونو او د رب رضا د خپلولو لپاره جهادي مبارزې ته ورداننګي او په اخلاص او جذبې د شهادتونو پسې ځغلي. یو بل ته مبارکۍ ورکوي او د شهادت په خپلولو کې سیالۍ کوي.

شهید وزیر بختور وو، چې د دوو سترو اشغالګرو تر شړلو وروسته هم غازي او هم شهید شو.

داسې جهادي مبارزې او شهادت د هر مخلص مسلمان ستره ارزو وي. په دې عمر کې د شهادت مرتبه هر چاته نه ورکول کیږي.

بسم الله الرحمن الرحيم
د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

# د وزیر صاحب د شهادت په مناسبت ځانګړې اونیزه



راستنیدنه عودت
اونیزه هفته نامه

شهید خلیل الرحمن حقاني د جهاد، تقوا او خدمت یوه داسې بېلګه وه، چې ټول عمر یې د اسلامي ارزښتونو په دفاع کې تېر کړ.
شهید وزیر د خپل شهادت په وسیله نړۍ ته وښوده، چې دا لاره مخلصو هڅو او قربانیو ته اړتیا لري.
هغه د اشغالګرو د دوو ستر ځواکمنو لښکرو پر وړاندې د بریا سمبول و او د خپل ژوند په پای کې یې خپله وروستۍ بریا د شهادت په جام کې ترلاسه کړه.
دا د هغه نه ماتېدونکې روح د عروج کیسه ده، چې د الله تعالی په لار کې یې ټول ژوند قربان کړ. د هغه قرباني د مسلمان ملت لپاره د ویاړ یوه بېلګه ده او د دښمنانو بزدلانه هڅه د دوی د بې وسۍ ورستی حد په کې څرګندیږي.
شهید وزیر د یوې داسې جهادي کورنۍ غړی و، چې له اسلامي ارزښتونو څخه د دفاع په برخه کې یې ستر نوم ګټلی. هغه د خپلې مبارزې په اوږدو کې د اشغالګرو پر وړاندې ودرېد او د خپل ولس د آزادۍ لپاره یې هڅې وکړې.
زندانونه یې تېر کړل. سختۍ او د جهاد تکلیفونو ته یې اوږه ورکړه او بلاخره د اسلامي وروروﻟۍ پیاوړتیا په هڅه یې خپل اخلاصمندانه هڅو کې د شهادت مقام وګټه.
شهید وزیر د اسلامي امارت لپاره ستره شتمني وه. هغه د کډوالو او راستنېدونکو چارو د وزیر په توګه خپلې چارې په مېړانه ترسره کړې. د خلکو په زړونو کې یې ځانګړی محبوبیت درلود. د هغه سخاوت، صداقت او شجاعت د هر چا په زړه کې ځلېدلی پاتې شو.
پر داسې یو شخصیت برید د ده دښمنانو ته د شرم وړ ده.
د دښمن دا ډول بریدونه د مجاهد پروره ملت ارادې هېڅکله کمزورې کولی نه شي. دا د اسلامي نظام د مستحکمېدو او د دښمنانو د ماتېدو لپاره د یوه نوي پړاو پیل دی.
تاریخ ګواه دی چې دغه ډول شهادتونو د مسلمان ولس روحیې لا نورې پیاوړې کړې او د اسلامي نظام د مقام لوړېدا باعث ګرځېدلي.
د شهید وزیر شهادت موږ ته دا پیغام راکوي، چې د افغان مجاهد ملت وحدت او یووالی په دې ډول بزدلانه او ناځوان مردانه بریدونو نشي خرابېدلای.
د اسلامي امارت استقامت او د شهادتونو فلسفې ته په کتو به د دې نظام هر دښمن مخ توری او ناکام وي. همدا د شهادت ویاړونه دي، چې افغانستان کې د اسلامي نظام راتلونکی نور هم روښانه کوي.
د دې خاورې شهیدان د حق د لارې تلپاتې څراغونه دي. د اسلامي نظام دښمنان باید پوه شي، چې په دې وینه کې هغه ځواک پروت دی، چې هره دسیسه به له منځه یوسي او د اسلام د بریا لاره به نوره هم ګرندۍ کړي.
پر شهید وزیر برید هم ښايي د هغو استخباراتي کړیو یوه بله ناکامه هڅه وي، چې د اسلامي امارت د کمزورولو لپاره له دې وسایلو کار اخلي.
اسلامي امارت او د افغانستان خلک به د دې قربانیو په برکت خپلو اهدافو ته رسیږي او دښمن به هېڅکله د خپلو شومو موخو په ترسره کولو بریالی نه شي.
د اسلام او افغان ملت دښمنان دې غوږونه خلاص کړي، چې د خلیل الرحمن حقاني شهادت د هغوی د بشپړې محوې پیلامه ده.
د شهید وزیر جهادي سترې، دفتري هڅې او شهادت دې د متعال خدای په دربار کې قبول او منظور وګرځي.

## د بغلان د والي د تعزیت پیغام

په خواشینۍ سره مو خبر ترلاسه کړ چی د مهاجرینو دبیرته راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني په شهادت رسیدلي.
بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
«وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ»
(سورة آل عمران: ١٦٩)
په ژورې خواشینۍ سره مو خبر ترلاسه کړ چې د اسلامي امارت د راستنیدونکو او کډوالو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني صاحب، د شهادت لوړ مقام ته ورسید.
انا لله و انا الیه راجعون.
دوکتور لطف الله خیرخوا:
شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني صاحب د اسلامي امارت له هغو مهمو او بانفوذه شخصیتونو څخه و چې خپل ټول ژوند یې د اسلام او مظلومو مسلمانانو د حقونو د دفاع لپاره وقف کړی و. هغه د حق او عدالت په لار کې د بې‌ساري اخلاص، مېړانې او قربانۍ یو روښانه مثال و.
ستر شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني تقبله الله د دې امت یوه ستره هستي او مؤمن انسان وو، هغه شهید شو خو تر شا یې امت او ملت ته ښه نوم، ښه کردار، خیر او ښېګڼه پرېښودل؛ هغه تقبله الله د خپلمنځې اخوت او وحدت مضبوط میخ وو.
شهید حقاني تقبله الله نه زمونږ اولنۍ شهید وو، نه به وروستۍ شهید شي
وروستي اووه اته کاله حاجي صاحب او زمونږ والد صاحب د اجتماعي هڅو، جرګو مرکو او غونډو ملګري ول. زما والد صاحب به چې د چا د جامع شخصیت او زړورې ښکېلتیا توصیف کاوه، ویل به یې «طوفان سړی» دی. دا توصیف مې د شهید حاجي صاحب په اړه ترې ډېر اورېدلی: حاجي خلیل طوفان سړی دی!
رحمة الله علیهما
شهیدحقاني
د شهادت او قربانۍ د لارې دوام؛ د شهید حاجي خلیل الرحمن حقاني ارمان به پوره کېږي.
کابل، د لېندۍ ۲۲ مه، باختر
تبصره
هغه چې وایي(ژوند د غیرت او مرګ د شهادت) شهید حاجي خلیل الرحمن حقاني همداسې وکړل، نړدې شپږ لسیزې ژوند یې په غیرت او له دین، وطن او خلکو څخه په دفاع کې تېر کړل او په پای کې الله (جل جلاله) د شهادت په مرګ هم ونازوه او دغه شهادت یې په داسې مهال په نصیب شو، چې عملاً د دین، هېواد، خلکو او بیا په ځانګړې ډول مهاجرینو لپاره د نظام په یو ډېر مهم ځای کې په خدمت لګیاه وو.
شهادت د هر مجاهد د زړه ارمان دی او هر مجاهد چې کله مبارزه او جهاد پیلوي، نو له دین، وطن او خلکو څخه د دفاع ترڅنګ یې بل لوی ارمان د شهادت ترلاسه کول وي او دعا کوي، چې الله (جل جلاله) یې دا ارمان پوره کړي.
تر شهید حاجي خلیل الرحمن حقاني وړاندې زرګونو او لکونو نورو افغان مجاهدینو هم په دغې لاره کې خپل سرونه نذرانه کړي او پرته له شک څخه، چې د الله (جل جلاله) له دین، وطن افغانستان او افغانانو څخه د دفاع لپاره به دا لاره دوام مومي او راتلونکي نسلونه به هم په ډېرې مېړانې سره پر دغې لارې راځي او د شهید حاجي خلیل الرحمن حقاني په شان به د خپلو مشرانو پر قدم به خپل قدم ږدي.
د دوه وو جهادونو مجاهد شهید حاجي خلیل الرحمن حقاني په خپل ژوند کې د افغانستان د دښمنانو له اشغال څخه د خلاصون خوند ولید، هغه څه یې چې د ژوند ارمان و او د هغه څه لپاره یې چې کلونه کلونه مبارزه کړې وه.
شهید حاجي خلیل الرحمن حقاني یواځې نه وو، بلکه کابو ټوله کورنۍ لکه: ورور، وريرونه او نور خپلوان یې مجاهدین دي او وو او دغه کورنۍ به د نوموړي تر شهادت وروسته نوره هم پیاوړې کېږي او لا ډېر به افغان وطن ته د شهید حاجي خلیل

# د وزیر صاحب د شهادت په مناسبت ځانګړې اونیزه



اونیزه راستنیدنه عودت هفته نامه

الرحمن حقاني په شان بچیان وړاندې کوي.

لکه څنګه چې اسلامي امارت د نوموړي د شهادت په اړه خبرپاڼه کې ورته اشاره کړې، دغه ډول پېښې اسلامي امارت او افغانان نه شي کمزوري کولای برعکس دا دښمن دی، چې خپله بې ننګي، خپل قساوت او شقاوت او خپله شومه څېره مسلمانانو ته په ګوته کوي.

د شهید حاجي خلیل الرحمن حقاني ارمان به پوره کېږي او دا وطن به د زرګونو شهیدانو له ارمان سره سم آبادېږي، غوړېږي او اسلامي نظام به لا نور پیاوړی کیږي.

د شهید حاجي خلیل الرحمن حقاني او زرګونو نورو شهیدانو روح دې ښاد او یاد یې تل پاتې وي.

(إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ)

## د حقاني صاحب د ملنګۍ یوه خاطره!
## مولوي امین الله مستغفر :

د اسد ۲۸ د ازادۍ په ویاړ مې ملي ټلوېزیون ته په پنځو ژبو ترانه ترتیب کړې وه، چې د ملي ټلویزون په انګړ کې د خوږو ماشومانو لخوا په ډېر ښه انداز وویل شوه، په دې وخت کې د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر صاحب را ولاړ شو او هغه ماشومانو ته یې نقدي جایزه ورکړه. ملنګ حاجي حقاني صاحب هم راپاڅېده چې جیب ته یې لاس کړ په یو څه کم مقدار روپۍ ورسره وې هغه یې ماشومانو ته ورکړې خو ټولو ته ونه رسېدې، بیا یې له سیاسي مرستیال نه یو څه روپۍ په پور واخیستې او ماشومانو ته یې ورکړې.

وروسته یې غږ وکړ چې دا ترانه چا ترتیب کړې وه؟

قاري سعید خوستي او د ملي ټلوېزیون معاون هدایت صیب ورته وویل چې دا مولوي امان الله مستغفر صاحب ترتیب کړې وه، بیا یې وغوښتلم چې راشه تاته هم جایزه درکړم کله چې ورغلم مولوي عبدالکبیر صیب نقدي جایزه راکړه، خو دا چې شهید حقاني صاحب سره پیسې وخت له مخه لا ختمې شوې وې، نو جیب ته یې لاس کړ او د عطرو په یوې شیشې یې ونازولم چې هغه عطر یې لا تر اوسه د یادګار په ډول راسره پاتې دي.

نو د دې واقعې له یادولو مې مطلب دا ؤ چې زمونږ مشران امرین نه، بلکې خادمان وه او دي.

شهیدحقاني

شهید خلیل الرحمن حقاني په یوه دینداره او مجاهد کورنۍ کې نړۍ ته سترګې پرانیستې. د ماشومتوب

## شهید خلیل الرحمن حقاني: ژوند، مبارزه، او د شهادت لاره
## محسن احسان
## ژوند او مبارزه

اسلامي تحریک په پیاوړتیا کې یې بنسټیز رول ادا کړ.

د اسلامي نظام د قیام په موخه، هغه په ټولو برخو کې نه ستړې کېدونکې مبارزه وکړه. د سولې، امنیت، او ټولنیزو اصلاحاتو په برخه کې یې مهمې کارنامې ترسره کړې. د خلکو تر منځ د یووالي او ورورولۍ درس ورکول یې یوه مهمه ځانګړنه وه.

کارنامې او خاطرې

شهید خلیل الرحمن حقاني د جهاد په ډګر کې د خپل تدبیر، زړورتیا او خدمت له امله د ستایلو وړ و. هغه د مجاهدینو تر منځ د شخړو په حل کې ډېرې هلې ځلې کولې او د ټولنیزې سولې د ټینګښت لپاره یې نه ستړې کېدونکې هڅې کولې.

یو له خاطرو څخه دا ده چې هغه ویل:

«جهاد یوازې د جګړې په ډګر کې نه دی، بلکې د خلکو زړونه ګټل او د حق پیغام رسول هم زموږ دیني فریضه ده.»

شهادت او د خوارجو وحشت

شهید خلیل الرحمن حقاني د ۲۰۲۴ کال د ډسمبر په ۱۱مه د خوارجو (داعش) لخوا په شهادت ورسېد. هغه خدای عبادت ته ولاړ و چې دې بې رحمه ډلې پرې برید وکړ.

خوارج چې د اسلامي امت په منځ کې یې د وینو تویولو، فتنې او نفاق اور بل کړی، د شهیدانو په وینو د خپلې منحرفې عقیدې د ثبوت هڅه کوي. هغوی د اسلام په نوم د مسلمانانو د وژلو هغه مخ تورونه دي چې تل د کافرانو لپاره کار کوي.

موږ په شهادت نه کمیږو، بلکې ځواکمنېږو

د شهید خلیل الرحمن حقاني د شهادت سره، د حق لار تل روښانه او د اسلام مینه‌وال لا پیاوړي کیږي. د شهادت په اړه

«د یو شهید وینه د زرګونو مسلمانانو په ایمان کې قوت راولي. موږ په شهادتونو نه کمزوري کیږو، بلکې زموږ صفونه لا متحد او قوي کیږي.»

شهید خلیل الرحمن حقاني د هغو کسانو لپاره الهام‌بښونکی و، چې د اسلامي نظام د ټینګښت لپاره کار کوي. د هغه شهادت د امت لپاره د بیدارۍ زنګ دی چې د خوارجو او نورو فتنه ګرو پر وړاندې په کلکه ودریږي.

خوارجو ته پیغام

خوارجو د تاریخ په اوږدو کې د مسلمانانو تر ټولو ستر دښمنان پاتې شوي دي. هغوی د اسلام د نوم په استعمال سره، په اصل کې د کافرانو موخې پر مخ وړي. دوی د مسلمانانو په منځ کې د وېرې، بې‌باورۍ او فتنې اور بل کړی دی.

شهید خلیل الرحمن حقاني به تل ویل:

«خوارج هغه خلک دي چې د اسلام له روح څخه لرې او د خپل ځان لپاره د فتنې لاره غوره کوي. د هغوی ماتې حتمي ده، ځکه چې حق تل پر باطل بریالی دی.»

مجاهدینو ته سپارښتنه

د شهید خلیل الرحمن حقاني ژوند او مبارزه موږ ته دا درس راکوي چې د دین لپاره کار کول یوازې د جګړې په ډګر پورې محدود نه دی، بلکې د یووالي، تعلیم او ټولنیزو اصلاحاتو د لارې مبارزه هم حیاتي ده. مجاهدینو ته یې سپارښتنه وه چې د خوارجو په وړاندې یوازې په توره نه، بلکې په علم، دعوت او صبر سره هم ودریږي.

پایله

شهید خلیل الرحمن حقاني د اسلامي امت لپاره یو ځلاند ستوری و، چې ژوند یې د قربانۍ او خدمت یوه بې‌ساري بیلګه وه. د هغه شهادت زموږ مسوولیت زیاتوي چې د هغه ارمانونه بشپړ کړو او د خوارجو پر وړاندې خپل ایمان او اتحاد لا پیاوړی کړو.

تقبله الله

«انا لله و انا الیه راجعون»

خلیل الرحمن حقاني په شهادت ورسېد! یو بل اتل د سولې او اسلام په لاره کې خپل ژوند قرباني کړ.

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

## د وزیر صاحب د شهادت په مناسبت ځانګړې اونیزه



اونیزه راستنیدنه عودت هفته نامه

الله دې ورته جنتونه نصیب کړي!

شهیدحقاني

خلیل الرحمن حقاني شهید شو. د هغه جهاد او قرباني به تل ژوندۍ وي. الله دې د هغه مقام لوړ کړي.

شهید حقاني

د سولې او حق لاربښود، خلیل الرحمن حقاني، په شهادت ورسید. الله دې امت ته د هغه په څیر مشران ورکړي.

شهید حقاني

حقاني شهید شو، خو د هغه مبارزه به روانه وي. موږ به یې قربانۍ هیڅکله هیرې نه کړو.

شهید حقاني

د اسلام او افغانانو یو بل اتل له موږ سره خدای په اماني وکړه. خلیل الرحمن حقاني، الله د شهادت قبول کړه.

شهید حقاني

شهید، تل ژوندی دی

قرآن کریم وایي:

وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًۢا ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ

شهید به له دې نړۍ کې ځي، خو د الله په دربار کې ژوندی دی.

شهیدحقاني

شهادت او مغفرت!

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

شهید ته د ده د ګناهونو ببښنه کېږي او د جنت لوړ مقام ورکول کېږي.

شهیدحقاني

شهادت ته اړتیا!

په هر وخت کې امت د شهیدانو په وجود کې اړتیا لري، ځکه چې شهید د حق او باطل ترمنځ کرښه ټاکي.

شهیدحقاني

شهیدانو ته دعا وکړئ!

هرکله چې د شهیدانو یادونه وکړئ، د دوی لپاره دعا وکړئ. د دوی قرباني زموږ دین، عزت او ازادي خوندي کړې ده.

شهیدحقاني

شهادت د ایمان لوړه مرتبه!

په اسلام کې شهادت یو ځانګړی مقام دی چې یوازې غوره مؤمنانو ته ورکول کېږي. د شهید وینه د حق او عدالت سند دی.

شهید حقاني

شهید خلیل الرحمن حقاني، چې د پخوا راهیسې د اسلام د مقدس دین یو مخلص مجاهد پاتې شوی و، د خپل ژوند هره لحظه د اسلامي احکامو په پلي کولو او د نبوي سنتو په پیروۍ کې تېره کړه. هغه نه یوازې د جهاد میدان یو وتلی مبارز و، بلکې د دیني تعلیماتو یو مخلص او په عملي کولو یې ټینګار درلود.

خلیل الرحمن حقاني د شوروي یرغل پر مهال د افغانستان د خپلواکۍ لپاره د جهاد په صفونو کې شامل شو او د دین، هېواد، او خپلواکۍ په لاره کې یې بې شمېره قربانۍ ورکړې. هغه په جهاد کې یوازې د جګړې هدف نه لېده، بلکې د اسلامي نظام د نافذولو لپاره یې هڅه کوله. هغه باور درلود چې یوازې د اسلامي شریعت په پلي کولو سره به د ټولنې د ټولو ستونزو حل ممکن شي.

خلیل الرحمن حقاني د غونډو او مجلسونو یو فعاله ګډونوال و. هغه په خپلو وینااوو کې تل د نبوي سنتو پر اهمیت او د اسلامي احکامو په پلي کولو ټینګار کاوه. د هغه په وینا کې تل د الله تعالی د رضا ترلاسه کولو لپاره د ځان اصلاح او د اسلامي لاربښوونو عملي کولو توصیه وه. هغه به ویل:

«اسلام یوازې د عباداتو نوم نه دی، بلکې د ژوند ټولو اړخونو ته لاربښوونه کوي. هر مسلمان مکلف دی چې په خپلو ټولو چارو کې د نبوي سنتو پیروي وکړي.»

خلیل الرحمن حقاني یوازې خبرې نه کولې، بلکې خپله یې د اسلامي تعلیماتو په رڼا کې ژوند کاوه. د هغه ساده ژوند، متواضع چلن او د نورو لپاره د خدمت جذبه، د هغه د ایمان او تقوا ښکاره نښې وې. هغه د اسلامي ورورولۍ او اتحاد د بنسټونو په قوي کولو کې ځانګړې ونډه لرله.

خلیل الرحمن حقاني د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. د هغه ژوند د اخلاص، تقوا او د الله د دین لپاره د نه ستړي کېدونکو هڅو یو روښانه مثال دی. شهادت د هغه د ایمان او مبارزې نهایي منزل و، چې د الله جل جلاله سره د ملاقات ارمان یې بشپړ کړ.

د شهید خلیل الرحمن حقاني ژوند موږ ته دا درس راکوي چې یو مسلمان باید په خپلو ټولو چارو کې د اسلام لاربښوونې عملي کړي او د نبوي سنتو په پیروۍ کې هېڅ ډول کمی ونه کړي. د هغه شهادت موږ ته دا پیغام راکوي چې په دې نړۍ کې زموږ هدف یوازې د الله د رضا ترلاسه کول دي، او دا یوازې د دیني احکامو په عملي کولو او د اخلاص په ژوندي کولو سره ممکن دی.

الله تعالی دې د خلیل الرحمن حقاني شهادت قبول کړي او موږ ته دې توفیق راکړي چې د هغه د ژوند څخه الهام واخلو.

د خپل اخلاص شهید

دا څوک دی چې یې کټ ته دومره ډېرې اوږې راغلې.

دا څوک دی چې هر څوک یې جنازه اخلي او ژاړي

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني مهربانه او زړور قومي مشر وو، د عمر زیات پسرلي یې د جهاد په ګرمو سنګرونو کې تېر کړ، د وحشي زندانونو تر څنګ یې د هجرت ډېرې ستړې ورځې او ناکراره شپې په میړانه او صبر سبا کړې. د روسي ښکیلاک او غربي اشغال په کرغېړنو او له کړاوونو په ډکو دورو کې یې نه بې صبري وکړه او نه یې چاته د سنګر او هجرت له ګړاونو شکایت په خوله راغی. شهیدان، کونډې او یتمان یې داسې وپالل چې د تاریخ په زرینو پاڼو کې به یې یاد تل تر تله باقي وي.

شهید حقاني د جهاد د لارې یو نه ستړی کېدونکی سپاهي وو، چې زیات زخمونه یې په تن منلي،

بسم الله الرحمن الرحيم
د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

# د وزیر صاحب د شهادت په مناسبت ځانګړې اونیزه



راستنیدنه اونیزه
عودت هفته نامه

دردونه یې زغملي او ډېر کړاوونه یې قبول کړي وو، ده د قربانیو ښه قدرداني وکړه او په ورین تندي یې د ټولو قربانیو بوج په خپل سر واخیست نو ځکه یې له لمبو د را وتلي سړي نوم خپل کړ.

شهید حقاني نه یوازې دا چې منلی جهادي قومندان او ښه رهبر وو، بلکې د جرګو او مرکو سړی هم وو، دخپل قوم او ټبر ترڅنګ پرې د هېواد مختلف اقشار راټول وو، د ولس خیرخواهي د شهید حقاني لوی ارمان وو، په یوه ویډیویي پیغام کې په عام فهمه کلیواله لهجه خبریال داسې مخاطب کوي (ښه خوشحالي مې دا ده چې زه همیشه د مسلمانانو په خدمت کې واوسم او له ما نه څوک خپه نه شي، په هر حالت کې زه له خلکو سره ښه روغبړ وکړمه او د شپې د ورځې د دوی میلمه پالنه وکړم او په ډېره نرمۍ سره او په ډېره ازاده فضأ کې دوی ته وخت ورکړم چې دوی خبره ماته په ښه خوشحالۍ سره وکړي او دوی له مانه ښه خاطره یوسي، نه بده ) د شهید حقاني له ډېرې نرمۍ او میلمه پالنې د صف ملګري او دوستان ټول برخمن وو تر دې چې دښمن هم ترې خپله شومه ګټه پورته کړه، مکار دښمن د ژوبل شوي مار په ډول د شهید حقاني د شفقت سیورې ته نږدې شو او بیا یې خپل مرګوني زهر وشیندل، چې تر پېړیو پېړیو به یې دې هېواد او شهید پرور کهول ته درد محسوسېږي.

د شهید حقاني د شهادت پېښه هر څوک له خپلې زاویې تحلیلوي، ټامیان یې د امارت داخلي اختلافاتو ته منسوبوي، حال دا چې د لیونیانو عقل به یې هم نه یوازې دا چې ورسره و نه مني؛ بلکې د دوی په عقدو، حسد او کم عقلي به په زوره زوره وخاندي، ځینې یې د امنیتي ځواکونو په غفلت او بېغوري ورقیاسوي او بعضې نور یې د استخباراتي کړیو کار ګڼي. خو زما په اند د شهید حقاني د شهادت ستر علت د ده ډېره خوشباوري، نرم خوی، له ولس سره زیات نږدیوالی او له مراجعینو سره ډېره اساني وه، چې دوښمن ترې ډېره ناوړه استفاده وکړه.

شهید حقاني هر وخت د دښمن مقابلې ته چمتو وو، ټوپک او ګردنۍ یې اوس هم د خونخوارو د زوال او نابودۍ په نیت له ځان سره ګرځول، ده له مرګ څخه ویره نه درلوده او د شهادت سخت ارمانجن وو چې بالاخره متعال رب د ۹/٦/١٤٤٦ نېټه په دې ستر انعام و نازاوو.

روح دې ښاد او یاد دې تل وي

لیکنه! شاهد عمر

د لمر د ډوبېدو غمجن ماحول د سپین رنګه امبولانس په رنګه څراغونو مات شو، خو خاموشي لا ماته نه وه.

خلک مات او غمجن ولاړ ول یوازې سترګې یې اوبلنې پرکېدې خو شونډې وچې او ترلې وې.

د امبولانس ور پرانیستل شو، یو د دنګ قامتي سړي تابوت ښکاره شو، لومړنۍ صحنې چې ولاړ خلک له اوښکو هاخوا لږ متحرک کړل هغه د ماما کوچنیو یتیمانو اوښکې وې چې د پلار تابوت کتو سره وبهېدې، تابوت کور ته دننه شو.

کوم ملګري غږ کړ چې مخ یې لوڅ کړی وروستي دیدار ته یې تږي یوو.

خو بلې خوا څخه غږ وشو چې مه یې ګورئ وجود یې روغ نه دی، لیدل یې د زړه له زغمه وتی.

دې غمجنې ګڼې ګوڼې کې د شهداؤ د کورنۍ د صبر او استقامت غر قدرمن خلیفه صیب راڅرګند شو، اصل کې د دې ستر ماتم ستره برخه ویر د ده پر اوږو وو خو هغه د شهادت په معنوي کیفیت دومره با خبره دی چې پر څېره او استقامت یې اغېز کم برېښېده.

خلیفه صیب ته هم وړاندیز وشو چې مخ یې ونه ګوري خو هغه یې مخ لوڅ کړ او خپل سر یې ورتیټ کړ تر غوږ یې اوچت وویل( ماما شهادت دې مبارک شه، رب دې ټولې ستړیاوې او قربانۍ قبولې کړه، د مجاهدینو په حق کې که کومې ختاوې درڅخه شوې الله ج دې درته معاف کړي)

دې خبرو د ګڼو ملګرو خاموشه اوښکې پر ژړا وربدلې کړې خو خلیفه صیب نرمه مسکا وکړه او حاضرین یې مخاطب کړل: دا زمونږ لومړنی شهید نه دی او نه مونږ له شهیدانو سره نوي یو، دا لار او شهادتونه به ګالو؛ زمونږ عزم په شهیدانو سره کمزوری کیږي نه؛ لا پیاوړی کیږي، ماما بختور وو چې په دې عمر کې یې د شهادت لوړ مقام ترلاسه کړ.

همدا څو د صبر او کلک هوډ جملې یې ملګرو ته ډالۍ کړې او مخه ښه یې وکړه.

او بلاخره د یو ملګري دروند غږ وشو، ماما جسد کور ته دننه کړئ هلته د کور ماشومان ورته انتظار دي.

هو!

ماما ته بختور وې خو غم دې دروند دی

شهید حقاني

په جهاد کې پیدا، جهاد کې لوی او د اسلامي نظام په خدمت کې یې ټول ژوند تیر کړ او د الله ج حضور ته بریالی ولاړ.

یاد ولرئ مونږ هیڅکله په شهادتونو نه کمزوري کیږو او نه له خپلو اهدافو وروسته کیږو، مونږ د الله ج سره وعدې کړې ځینو خپلې وعدې پوره کړې او ځینې په انتظار دي.

مونږ د اسلامي نظام د راوستلو په موخه زرګونه ککرۍ قربان کړې وې، د ساتنې په موخه یې هم زرګونو قربانیو ته تیار یو.

دین او شریعت مو سره کرښه ده، مونږ دې نه یو، خو دین دې سر لوړی وي.

اللهم تقبل شهادته واسکنه فسیح جناته مع النبیین والصدیقین والشهداء والصالحین وحسن أولئك رفیقا.